

# د دعوت فنون



لیکوال: دکتور عائض القرني

ژباړن: احسان الله ځیرک

# د دعوت فنون

ليکوال: دکتور عائض القرني

ژباړن: احسان الله «حیرک»

# د کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د دعوت فنون |
| ليکوال | دکتور عائض القرني |
| ژباړن | احسان الله ځیرک |
| برېښنايي کوونکی | عزت الله سلطانزی |
| اړیکه | 0093706912702 |
| کمپوز | ژباړن |
| چاپ | لومړی |
| د چاپ شمیر | ۱۰۰۰ |
| چاپ کال | ۳۹۵ لیږدیز لمریز |
| خپرندویه | جهان دانش پرنټرز محله جنګی پېښور |

دا کتاب دباور کتابتون څخه ښکته شوی

https://Bawar.Net

دنور کتابونو لپاره د باور کتابتون له ويبپاڼي څخه لیدنه وکړی

FB:Ezatullah.sultanzai

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مطالبو لړلیک

۱- په دعوت کې اخلاص:..........................................................۵
۲- د موخې ټاکل: ..................................................................۶
۳- د مجاهدینو په صفاتو باندې سینګار کېدل:.....................................۶
۴- د ګټور علم طب ................................................................۸
۵- په خیالي(ایډیال) نړۍ کې ژوند ونه کړي: ........................................۹
۶- د خدای (ج) له رحمت څخه ناهیلې نه شي:.......................................۱۲
۸- داعي خپل ځان د خلکو په وړاندې نه تزکیه کوي: ................................۲۰
۹- د فساد او مفسدینو له کثرت څخه د ماتې احساس ونه کړي: ......................۲۲
۱۰- قران مزایده ته وړاندې نه کړي: ................................................۲۶
۱۱- په جوړو شوو احادیثو باندې استدلال ونه کړي:..................................۲۷
۱۲- د نومونو په ذکر کولو سره په هنیتونو، موسساتو:.................................۲۹
۱۳- هر څه ته په خپل واقعي مقام کې ځای ورکړي ...................................۳۲
۱۴- له خلکو سره په نرمۍ خبرې وکړي او په مهربانۍ ورته نصحیت وکړي: ۳۲
۱۵- له خلکو سره په ښه ډول چلند وکړي او د هغوی احترام وساتي: .................۳۷
۱۶- د مصلحت له مخې په علني یا پټ ډول، دعوت وکړي: ..............................۳۹
۱۷- د ورځې مسایل او نوي اندونه وپېژني:............................................۴۱
۱۸- له خلکو سره د هغوی د درک په اندازه خبرې وکړي: ..............................۴۲
۱۹- د عیبونو نسبت نورو خلکو ته مه کوي: ..........................................۴۳
۲۰- د داعي چال چلند باید یوه بېلګه وي: ............................................۴۵
۲۱- له خلکو سره باید دوستي وکړي: ..................................................۴۶

۲۲- داعي باید له خلکو سره نسبي دوستي او دښمني ولري: .............. ٤٧
۲۳- باید تولنیز شخص وي: .................................. ٤٨
۲۴- په دعوت کې اولویت بندي: ................................ ۵۰
۲۵- د هر کس مقام وپېژني: .................................... ۵۳
٣٦- له خپل ځان سره حساب وکړي او له خدای (ج) څخه مرسته وغواړي: .. ٥٤
۲۷- په عبادت کې باید ممتاز وي: ................................ ٥٦
۲۸- په کمه دنیا باندې راضي وي او خپل ځان مرگ ته تیار کړي: ............ ۵۷
۲۹ – ظاهرا سینگار او ښه والي ولري:................................. ۵۸
۳۰- د ښځو چارو ته اهمیت ورکړي: .............................. ٦٣

# د ژباړن خبرې

د لوی او سپېڅلي رب ډېر شکر اداء کوم چې ماته یې ددې وس او توان راکړ تر څو یو بل نوی کتاب له ژباړې وروسته د لیک په ګڼه سمبال او د ګرانو وطنوالو چوپړ ته یې وړاندې کړم.

هره ټولنه او هر کار خپل ځانته بېل او ځانګړي اصول لري، د دعوت طريقه او کار که څه هم چې له یو لوري پر مسلمانانو باندې لازم دی مګر له بل لوري باید اسلام او اسلامي ارزښتونو ته د نورو خلکو په رابللو کې له خاصو قواعدو،اصولو او طريقو څخه کوم چې په قران کریم او احادیثو کې راغلي دي، پیروي وشي.د همدې موخې لپاره مې دا اوسنی کتاب وژباړه تر څو د اسلام سپېڅلي دین ته د دعوت په برخه کې له داعیانو سره مرسته وکړي او تر یو څه بریده یې د دوی شته نیمګړتیاوې رفع کړای شي، په پښتو ژبه کې د کمو کتابونو په تېره بیا د داسې ډول اسلامي ارزښتناکو کتابونو نه شتون مې دې ته هڅوي چې په دې برخه کې ډېر هڅې وکړم او لا نور همداسې ډول کتابونه خپلې ژبې ته راوژباړم، انشاالله دا هڅې به لا همداسې دوام ولري.

په اخېره کې له ګرانو لوستونکو څخه ارزو لرم چې په خپلو دعاګانو کې مو هېر نه کړي او څرنګه چې هره انساني کړنه له نیمګړتیاوو او تېروتنو څخه خالي نه ده ، نو دا اوسنی کتاب به هم له نیمګړتیاوو او خطاګانو خالي نه وي، خو په خپلې مهربانۍ سره مې وبښئ او په راتلونکو چاپونو

کې د تېروتنو او نیمګړتیاوو د اصلاح لپاره مو که چېرې کومې نیمګړتیاوې ترسترګو شوې په لاندې برېښنالیک یې راسره شریکې کړئ او په اخېره کې باید له ګران ملګري عصمت الله «احساس» څخه نړۍ مننه وکړم چې د کتاب په بیا کتنه او اېډېټ کې یې خپلې مرستې نه دي راڅخه سپمولي، نور ستاسو او کتاب ترمنځ خنډ نه ګرځم دا تاسو او دا کتاب.

په درنښت

ستاسو ورور

احسان الله «خېرک»

Ihsanzadran۱۱@gmail.com

۰۷۹۹-٤۰٤۹۷۵

# د لیکوال مقدمه

ان الحمد لله نحمده و نستغفره، و نستهدیه، و نعوذ بالله من شرور أنفسنا و من سیئات أعمالنا، من یهده الله فلا مضل له، و من یضلل فلا هادی له، و أشهد أن لا اله الا الله وحده لا شریک له، و أشهد أن محمدا عبده و رسوله، صلی الله علیه و علی آله و صحبه و سلم تسلیما کثیرا. اما بعد:

دعوت داسې ډول یو فن دی چې داعیان په ډېره ښه توګه په هغه کې بریالي کېږي، لکه څه ډول چې په ساختمان جوړونه او صنعت باندې ماهر معماران او صنعت کران ښه پوهیږي. د داعیانو ټول هم او غم باید دعوت وي او هغه په سم ډول خلکو ته ورسوي؛ ځکه چې هغوی د محمد مصطفی صلی الله علیه واله وسلم وارثین ګڼل کیږي.

داعیان باید د دعوت لارې، طریقې، پایلې او اسباب وڅېړي او د هغه تعهد په تړاو چې د بشریت معلم صلی الله علیه واله وسلم په نسبت یې لري، له خدای (ج) څخه ووېرېږي، ځکه چې هغوی د پغمبرانو حقیقي وارثان دي او هغه کسان دي چې دا امانت دوی ته وربه غاړه شوی دی.

نو له دې کبله داعی چې هر ډول اشتباه ترسره کوي، په امت باندې خپل اغیز ښېندي، په لومړي قدم کې داعیان د خپلو اشتباهاتو او ناکامیو مسؤل دي، ځکه چې هغوی د داسې ډول کښتۍ مسولین دي چې که

چېرې يې د امن ساحل ته کش کړي، نو د خدای (ج) په غوښتنه او رضا سره نجات مومي.

له دې کبله يو شمېر اداب شته چې داعيان بايد پر هغوی باندې خپل ځان سينگار کړي تر څو د هدايت پيغام راوړونکي او د حق او حقيقت ډيوه لرونکي شي او خپل رسالت هغه ډول ترسره کړي کوم چې الله متعال غوښتی دی.

## ۱- په دعوت کې اخلاص:

په هر کار کې اخلاص د هغه د بریالیتوب اساس ګڼل کیږي، نو له دې کبله داعیان باید په دعوت کې اخلاص ولري او په خپل کار(دعوت) کې خپل پروردګار په نظر کې ونیسي؛ د دنیا د فاني او ژر تېرېدونکو ګټو په لټه کې نه وي. بلکه له هغوی څخه هر یو یې لاندې ایاتونه په خپله ژبه باندې جاري کړي:

مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ﴿الفرقان: ٥٧﴾

ژباړه: زه د دین په رسونه له تاسو نه کوم بدل نه غواړم.

قُلْ مَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ فَهُوَ لَكُمْ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿سبإ: ٤٧﴾

ژباړه:ای محمده! ووایه چې زه چې له تاسو کوم بدل غواړم په هغه کې ستاسو ګټه ده، پاتې شوه زما خپله خبره زما مزدوري یوازې پر یو الله ده، او هغه پر هر څه ښه خبردار دی.

نو داعی باید د مصنب، مقام، منزلت او شهرت په لټه کې نه وي، بلکه په هغه کار سره چې ترسره کوي یې یوازې د یو خدای (ج) رضا په نظر کې ولري او په خپله ژبه ووایي:

خذوا کل دنیاکم و اترکوا فوادی حرا طلیقا غریبا فانی اعظمکم ثروه و ان خلتمونی وحیدا سلیبا). یعنې : (ټوله دنیا مو واخلئ او زړه مې ازاد او خلاص پرېږدئ تر څو په غربت کې ژوند وکړم؛ ځکه زه له تاسو ټولو څخه لویه شتمني لرم که څه هم چې ماته د بې کسه او یوازې فکر کوئ).

## ۲- د موخې ټاکل:

د داعی لپاره باید خپله موخه کومه چې په دنیا کې د دین اقامه او د خیر او ښېګڼې غلبه همدا راز د فساد له منځه وړل دي، روښانه وي:

(إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿هود: ۸۸﴾

ژباړه: زما ټوله غوښتنه همدا ده چې د توان تر اخرنی پولې د روغې جوړې او سموالي هڅه وکړم، له الله تعالی پرته د بل هیچا اسره راسره نشته، یوازې پر هغه مې توکل کړی او یوازې هغه ته مې پناه ده.

## ۳- د مجاهدینو په صفاتو باندې سینګار کېدل:

داعی د هغه مجاهد په څېر دی چې د الله (ج) په لاره کې جهاد کوي، هماغه ډول چې مجاهدین له پولو څخه له یوې پولې ساتنه کوي، داعي هم له پولو څخه د یوې پولې ساتنه کوي او هماغه ډول چې مجاهدین د خدای (ج) له دښمنانو سره جنګیږي، داعی هم د خدای (ج) له دښمنانو

سره جنګیږي، یعنې له هغو خلکو سره چې غواړي د امت په منځ کې شهوات او شبهات رواج کړي، د مسلمانانو نسلونه فساد لوري ته کش کړي، امت د ځوړتیا پر لور سوق کړ او د رذایلو په منجلاب کې یې غرق کړي، جنګیږي:

(وَاللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ أَن تَمِيلُوا مَيْلًا عَظِيمًا ﴿النساء: ٢٧﴾

ژباړه: الله تعالی غواړي چې ستاسو توبه ومني او د شهوتونو پسې منډې وهونکي غواړي چې تاسې په لویه پیمانه له لیارې کاږه شئ.

نو داعي باید خپل ځان د مجاهدینو په صفاتو سینګار کړي او د خدای (ج) د دښمنانو په وړاندې صبر ته مخه کړي او غاړه یې ووهي:

(حَتَّىٰ تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ذَٰلِكَ وَلَوْ يَشَاءُ اللَّهُ لَانتَصَرَ مِنْهُمْ وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَ بَعْضَكُم بِبَعْضٍ وَالَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ ﴿محمد: ٤﴾

ژباړه: او تر هغو همدې کار ته دوام ورکړئ تر څو جنګ خپله وسله پر ځمکه کېږدي، دا ستاسې کار دی، که الله غوښتلی نو په خپله به یې له هغوی نه بدل اخیستی وو، خو هغه دا لار خوښه کړې، ترڅو تاسې یو پر بل وازمایي، او څوک چې د الله په لار کې وژلي شوي دي، هیڅکله به یې کړنې بابیزه او توی نشي.

## ۴- د ګټور علم طلب:

داعي بايد د هغه ګټور علم په لټه کې وي چې د خير له ښوونکي (محمد (ص) ) څخه په ميراث پاتې شوی دی تر څو په بشپړې پېژندګلوی او بصيرت سره د دين لوري ته بلنه وکړي. خدای (ج) په قران عظيم الشان کې فرمايي:

قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَىٰ بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿يوسف: ۱۰۸﴾

ژباړه: ای محمده! ووايه چې دا زما لاره ده چې په ښه بصيرت او پوهې سره زه او زما پيروان د الله په لور بلنه کوو، تولې پاکۍ الله ته دي او زه د مشرکانو له ډلې څخه نه يم.

مجاهد وايي چې: د بصيرت کلمه په پاسني ايت کې د علم په معنا سره ده او نورو ويلي دي چې: د حکمت په معنا ده، او ځينو نورو ويلي دي چې د توحيد په معنا ده.

حقيقت دادی چې هر درې واړه معناوې يو بل ته نېږدې دي؛ داعي بايد بوپالونکی او موحد وي؛ يوازې له خدای (ج) څخه ووېرېږي او بل هيڅ ډول وېره يې زړه ته لار ونه مومي او له الله تعالی سره له ټولو نه زياته مينه ولري.

باید له ګټور علم څخه چې هماغه ډول چې د قال الله و قال الرسول علم دی، برخمن وي تر څو خلک په پوهې سره رادعوت کړي، نو له دې کبله ټول قران یا د هغه هره اندازه چې ورته اسانه وي، حفظ کړي، د خدای (ج) رسول احادیثو ته عنایت او ځانګړي پاملرنه وکړي، احادیث تخریج کړي، د صحیحو او ضعیفو احادیثو صحت بیان کړي، تر څو خلک یې په علم باندې باور وکړي او وپوهیږي چې نوموړی د خلکو حضور او افکارو ته احترام کوي، همدا راز باید داعی د ګټور، نوي، رغنده او بنسټینه شوي علم په ډاګه کولو او د اهل سنت والجماعت د طریقې پر بنسټ، خپلو اوریدونکو ته احترام وکړي.

بله داچې داعی باید په خپل سفر او اقامت کې له خپلو وختونو څخه ګټه واخلي، شرعي مسایل بحث ته وړاندې کړي، د علم له طالبانو سره بحث وکړي،لویانو ته احترام وکړي او د عالمانو له علم او تجربو څخه ګټه واخلي. په هغه صورت کې چې داعی له دغو ځانګړنو څخه برخمن وي، خدای (ج) یې غشي موخې ته رسوي، خبرې یې ګټورې ګرځوي او د دلیل حجت یې استوار کوي.

## ۵- په خیالي(ایډیال) نړۍ کې ژوند ونه کړي:

یو له هغو چارو څخه چې د داعی لپاره لازم ګڼل کیږي، داده چې په خیالي نړۍ کې ژوند ونه کړي او په دې وپوهیږي چې په خپله دی او خلک ټول نیمګړتیاوې لري، خدای (ج) په دې اړه په قران عظیم الشان کې فرمایي:

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ مَا زَكَىٰ مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ أَبَدًا وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يُزَكِّي مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿النور: ۲۱﴾

ژباړه: او که پر تاسو د الله فضل او احسان نه وای، نو هیڅلکه به مو کوم یو له گناه څخه پاک شوي نه وو، خو الله پاک هغه خلک پاکوي چې خوښه یې شي.

باید په دې وپوهیږو چې یوازې خدای (ج) کامل او پاک ذات دی، او مونږ نیمگړي یو، خدای (ج) کمال خپل ځان ته اختصاص کړی دی او نواقص او عیبونه یې انسانانو ته پرېښودي، په داسې حال کې چې انسان نیمگړی او ناقص پیدا شوی دی، داعی باید د دې نقطې په نظر کې نیولو سره له هغوی سره رفتار وکړي؛ په دې برخه کې، ښځه او نر او ځوان یو له بل سره هېڅ راز توپیر نه لري، خدای (ج) فرمايي:

إِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ إِذْ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ ﴿النجم: ۳۲﴾

ژباړه: بې له شکه چې ستا د رب ښښنه ډېره پراخه ده، تاسو له هغه وخت نه پېژني چې تاسې یې له ځمکې څخه پیداکړئ.

نو پس هغه مهال چې خدای (ج) تاسو له ځمکې، ختو او خاورو څخه پیداکړي یاست، قطعا ناقص یاست. په همدې خاطر نبی اکرم صلی الله علیه واله وسلم له خلکو سره په دې اساس چې ناقص دي او نمیگړتیا لري، چلند کاوه. نو له دې کبله که چېرې به یې کوم کس لیده چې نمیگړتیا

پکې ده او غلطي کوي، له هغه سره به يې کمک کاوه ، لاسنيوی به يې کاوه او هغه ته به يې په سمه لاره باندې لارښوونه کوله.

هغه داعي چې خيالي فکر کوي، له خلکو سره ور نه دی، ځکه نوموړی په خپل تصور او خيال کې خلکو ته د فرښتو په څېر فکر کوي چې له فرښتو سره يې يوازينی توپير په خوراک او څښاک کې دی. په داسې حال کې چې دا ډول فکر غلط او اشتباه دی؛ په ځانګړي ډول په پنځلسم قمري پېر کې چې نور، محمد (ص) او صحابه نشته، علماء ډېر کم دي، شبهات زيات دي، له هرې خوا مونږ ته بدعتونه راروان دي او سازمان شوي دسايس زمونږ سره په مبارزه کې راپاڅېدلي دي چې په نړيوالو کنفرانسونو کې څېرل شوي او نړيوال صهيونيزم او د هغوی مزدوران يې تر شاه ولاړ دي.

نو له دې کبله بايد عالم او داعی له دې نسل سره په اړيکه کې وي، او له هغه څخه د تېروتنې توقع ولري او په دې وپوهيږي چې امکان لري هر انسان له لارې څخه منحرف شي. نو له دې کبله بايد داعی د خيال او ايډيال په نړی کې ژوند ونه کړي.

## ٦- د خدای (ج) له رحمت څخه ناهیلې نه شي:

پر داعی باندې واجب ده که چېرې یو ځوان مشکل ورسره مطرح کړي او مثلا هغه ته ووایي چې د فلاني گناه مرتکب گرځېدلی یم، وربانديې په قهر نه شي. څکه چې په یو صحیح حدیث کې په ثبوت رسیدلي ده چې د نبي کریم (ص) حضور ته یې یو شخص د پنځوسم ځل لپاره د شرابو جرم د ترسره کولو له کبله راوور، نو کله چې یې وغوښتل په دورو یې ووهي، له صحابه وو څخه یو یې وویل: خدای (ج) د هغه رسوا کړي، څو ځله هغه راوړي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم غمجن شو او هغه سړي ته یې په خطاب کې وفرمایل: « دا ډول خبرې مه کوه او پر هغه باندې له شیطان سره کمک مه کوه، قسم په هغه ذات چې زما ځان د هغه په لاس کې دی، هغه څه چې زه د ده په اړه پوهیږم دادي چې خدای (ج) او رسول ورسره مینه لري».[1]

څه حیکمانه وینا او څه ځانگړی ارشاد!!

له دې کبله تل وایو: خلک چې هرڅومره د گناه او معصیت مرتکب شي، ناامیده کېږئ مه!، بلکې هغوی د دغه امت هیله او امید وبولئ، څومره ښه به وي که د هغوی پرمخ د توبې دروازې خلاصې شي او په راتلونکې کې تاسو هغوی صادق، مخلص او تائب خلک وگورئ؛ همدا ډول داعی باید د خلکو له اجابت څخه ناهیلې نه شي بلکه صبر وړاندې کړي او اجر

[1] بخاري ( ٦٧٨٠، ٦٧٨١)

يې له خداى (ج) څخه وغوواړي او د خپلې سجدې په دعاګانو کې له خداى (ج) څخه وغواړي تر څو هغوى ته هدايت وکړي او بيره ونه کړي.
څکه چې پغمبر اکرم (ص) په مکه مکرمه کې ديارلس کاله پاتې شو او خلک يې د لااله الا الله لوري ته رادعوت کړل او له دې سره سره چې ډېر وزورول شو او ازار ورکړل شو او تر تر اذيت او زورونې لاندې ونيول شو، مګر ناهيلې نه شو.

د ويلو ده چې هغه ستونزې چې تاسو ورسره مخ کېږئ له هغو ستونزو او مشکلاتو سره چې نبي کريم (ص) ورسره مخامخ شوى، د پرتلې وړ نه دي، له دې سره سره نبي کريم (ص) هغه ستونزې تحمل کړې او خپل شجاعت يې وښود او غمجن نه شو. انحضرت هومره تر ازار او اذيت لاندې ونيول شو چې د غرونو فرښته مخې ته ورته راغله او ويې ويل: اى محمده! خداى تاته ستا د قوم ځواب واوريد، زه د غرونو فرښته يم، پروردګار دې زه راليږلي يم تر څو هر امر چې راته وکړئ اجراء يې کړم. که چېرې غواړې دا دوه غرونه پر هغوى باندې راکښېنوم؟ رسول الله هغې ته وفرمايل: «بلکه زه هيله لرم چې د هغوى له نسل څخه داسې انسانان پيداکړي چې يوازې د خداى (ج) عبادت وکړي او له هغه سره کوم څه شريک نه کړي».[۲]

---

[۲]- بخارى( ۳۲۳۱) او مسلم (۱۷۹۵)

هو! خدای (ج) د کفر مشرانو له نسل څخه مسلمان پیداکړل، لکه څه ډول چې ولید بن مغیره صیب د خالد بن ولید په نوم د یو کس زوی شو او له ابوجهل څخه د عکرمه بن ابوجهل په نوم زوی دنیا ته راغئ.

څومره ښایسته طریقه! او څومره ښایسته ده چې دعوتګر ناهیلې نه شي او وپوهیږي چې څومره به ښه وي چې یو ګناهګار شخص له نافرمانی او ګناه څخه وروسته د مسجد په امام، ویناکوونکي او یا مومن عالم باندې بدل شي.

کوم کس تل بد نه دي کړي؟ او کوم کس تر ترتله ښه وو؟!

و من ذا الذی ترضی سجایاه کلها

کفی المرء نبلاً ان تعد معایبه

ترید مهذبا لا عیب فیه

و هل عود یفوح بلا دخان

(یعنې کوم داسې کس شته چې ټولې کړنې یې غوره او ښایسته وي؟ همدا لویي د انسان لپاره بسنه کوي چې عیبونه یې د شمېرلو وړ وي، تاسو د داسې انسان په لټه کې یاست چې هیڅ ډول عیب ونه لري! ایا د داسې عود په لټه کې یئ چې ښه بوی ورڅخه پورته شي پرته له دې چې لوګی وکړي).

د کتاب او سنت د لارښوونو پر بنسټ داسې ډول تصور سم نه دی.

نو له دې کبله د خدای (ج) له رحمت څخه مه ناهیلې کېږه، ځکه د الله تعالی رحمت له هر څه نه زیات دی او هغه رحمن او رحیم ذات دی.

په یو قدسي حدیث کې چې احمد او ترمذی په صحیح سند سره روایت کړی دی، الله تعالی فرمایي : ( ای د ادم زویه! په هره اندازه چې له ما وغواړې او له ما هیله ولرې، تاته مغفرت کوم او باک نه لرم، اې د ادم زویه! که گناهونه دې تر اسمانه ورسیږي او بیا له ما څخه د مغفرت غوښتنه وکړې، تا ښښم او باک نه لرم. اې د ادم زویه! که له گناهونو د ځمکه ډکه شي او بیا ماته په داسې حال کې راشې چې له ماسره دې کوم څه نه وي شریک کړي، تاته په ډکه ځمکه، ښښنه کوم)[۲]

داعی باید د هغو کسانو د ارتکاب په خاطر چې دعوت کوي یې ناهیلې نه شي، بلکه باید له ټولو یعنې لوی او کوچني، نیک کار او بدکار، اطاعت کوونکي او نه اطاعت کوونکي سره معاشرت ولري او پر دې وپوهیږي چې څومره ښه ده چې دا گناهگار انسان یوه ورځ په یو لوی داعی او یا د خدای (ج) د اولیاوو څخه په یو ولي باندې بدل شي. نو ناهیلې کیږه مه او په تدریج سره له هغه سره حرکت وکړه، لاس یې کم کم ونیسه، په وړاندې یې جبهه مه نیسه او اړیکه ورسره مه پرې کوه.

د ثقیف د طایفې یوه ډله د رسول اکرم حضور ته راغله : انحضرت (ص) هغوی اسلام ته را دعوت کړل ویې ویل : چې شاهدي ورکوو چې له الله

---

۲-ترمذی( ۳۵۴۰)

تعالی پرته بل هیڅ معبود نشته او ګواهي ورکوو چې ته د خدای (ج) پغمبر یې، مګر لمونځ نه کوو، زکات نه ورکوو او د خدای (ج) په لاره کې جهاد نه کوو.

نبي کریم صلی الله علیه واله وسلم وفرمایل: «هغه دین چې په هغه کې لمونځ نه وي، په هغه کې هیڅ خیر نشته».

بیا رسول الله صلی الله د جهاد او زکات په اړه وفرمایل: « که څوک مسلمان شي، صدقه هم ورکوي او جهاد هم کوي». د ابوداوود روایت.

بلاخره هغوی مسلمان شول او خدای (ج) یې په زړونو کې ایمان ته ځای ورکړ، تر دې بریده چې لمانځونه یې اداء کړل، زکات یې ورکړ او د خدای (ج) په لاره کې یې جهاد وکړ، د هغوی ځینې یې د ماوراء النهر په سیحون او جیحون او ځینې یې په قندهار کې په شهادت ورسیدل.

نو له دې کبله انسان باید د الله متعال د دین پر لور د خلکو له دعوت څخه ناهیلې نه شي، بلکه باید وپوهیږي او هیله من وي چې بلاخره په یو پړاو کې هدایت کیږي او د خدای لوري ته راګرځي.

نو باید شراب خور، غل، زناکار او قاتل د خدای لور ته د بیاراګرځېدو څخه ناامیده نه کړو، بلکه د خدای (ج) د هدایت مینې ته یې په زړونو کې ځای ورکړئ او هغوی ته ووایئ چې ستاسو پرودګار ډېر مهربان دی او په قران عظیم الشان کې فرمایي:

(وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَىٰ مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿آل‌عمران: ۱۳۵﴾

ژباړه: او (متقیان) هغه کسان دي چې کله کوم بدکار یا پر ځانو تیری وکړي الله را یاد کړي او د خپلو ګناهونو ښښنه وغواړي او ایا پرته له الله بل څوک شته چې ګناهونه وبښي؟ او هم له پوهې سره پر خپلو بدو کړنو ټینګار نه کوي.

علی بن ابی طالب فرمایي: « پوه انسان، هغه کس دی چې خلک د خدای (ج) له رحمت څخه ناهیلې نه کړي او هغه د معصیت او ګناهوهو په دام کې وانه چوي».

د داعی له دندو څخه یوه بله دنده داده چې ګناهونه خلکو ته کم اهمیته ور په ډاګه نه کړي، بلکه هغوی د بې نیازه او یوازینی خدای (ج) څخه وویروي او په دعوت کې د رجاء او خوب ترمنځ لاره په مخ کې ونیسي. ځکه چې ځینې داعیان له ګناهګارو وګړو سره په چلند کې په پټو سترګو او ساده ګۍ سره چلند کوي، په دې معنا که چېرې کوم شخص د کبیره ګناه مرتکب شي، وایي چې پروا نه لري، او هرکله چې کومه غلطي ترسره کړي وایي چې مهمه نه ده.

آیا دوی نه پوهیږي چې داسې پرودرګار شته چې هرکله یې پر حدودو باندې تجاوز وشي، په قهر کیږي؟ او آیا نه پوهیږي چې لوی پاچا پر عرش باندې ناست دی او پر حدودو باندې یې تجاوز نه خوښوي؟ په صحیح حدیث کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه واله وسلم وفرمایل: ( تعجبون من غیرة سعد؟ والذی نفسی بیده أنی أغیر من سعد، و أن الله أغیر مني)[٤]

ژباړه: ایا د سعد له غیرت څخه تعجب کوئ؟ قسم په هغه ذات چې زما خان د هغه په لاس کې دی، زه له سعد څخه ډېر غیرت لرم او خدای (ج) هم له ما څخه ډېر غیرت لري).

د یادولو ده چې غیور د الله تعالی له صفتونو څخه یو صفت دی، د ابن مسعود (رض) په صحیح حدیث کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه واله وسلم وفرمایل: «ان الله غیور و من غیرته سبحانه و تعالی أنه یغار علی عبده المؤمن أن یزني و علی أمته المؤمنة أن تزني»

ژباړه: خدای (ج) غیور دی، او د پاک او لوړرتبه خدای (ج) له غیرت څخه ده چې که چېرې بنده یا کنیز او باایمانه مؤمن، د زنا مرتکب شي، غیرت یې په جوش راځي.

---

٤. بخاری (٧٤١٦) او مسلم (١٤٩٩)

### ۷- پر وګړو باندې د هغوی د نوم په یادولو سره حمله نه کول:

د داعی له صفتونو څخه یو پر وګړو باندې د هغوی د نوم په یادولو سره حمله نه کول دي، یعنې پر منبرونو باندې د وګړو نومونه نه اخلي او د هغوی عیبونه نه په ډاګه کوي، بلکه په داسې ډول له هغوی سره چلند کوي چې رسول اکرم صلی الله علیه واله وسلم به چلند کاوه او فرمایل به یې « ما بال اقوام یفعلون کذا و کذا » یعنې ولې ډلې ډلې داسې او هسې کوي؟ په پایله کې به هغه خطاء کوونکي انسان خپلې اشتباه ته متوجه کېده، پرته له دې چې د خلکو په منځ کې مشهور او وپېژندل شي.

مګر علماء پر دې باور دي چې که چېرې یو شخص ښکاره کومه ګناه ترسره کوي او په خپلو لیکنو کې خپل انحرافات او بدعتونه اعلانوي یا خلک د فسق او فجور خواته رابولي، کولی شي چې نوم یې واخلي، څکه چې خلکو ته یې خطر معرفي کیږي. لکه څه ډول چې علماوو جهم بن صفوان خلکو ته وروپېژانده، په داسې ډول چې عبدالله بن مبارک رحمه الله د هغه په اړه وایي: هغه داسې جنایتکار دی چې خلک د جهنم لوري ته سوق کوي او په دین کې یې لوی بدعت ایجاد کړی دی.

همدا راز یې د نوموړي په ا ړه وویل: له هغه دجال څخه چې نوم یې له جهنم څخه اخیستی دی او خلک د هغه پر لور رابولي، بېزاره یم.

همدا ډول علماوو، جعد بن درهم خلکو ته وروپېژانده او خلکو ته یې د داسې ډول افرادو نوم د حدیثو په کتابونو کې ولیکه او خلک یې په عمومي

او خصوصي ناستو کې له هغه څخه خبر کړل، لذا داسې ډول وګړي چې دا راز ځانګړنې ولري، معرفي کېږي.

مګر د هغه کسانو په اړه چې ښه نیت ولري، مګر خطاء شوي وي او له لارې نه ښوئیدلي وي او یا هغه وګړي چې د خپل ژوند له پړاوونو څخه یې په یو پړاو کې ګناه او معصیت ترسره کړی وي، باید هڅه ورسره وشي تر څو د هغوی نومونه په ډاګه نه شي او په تور لیست کې ضبط نه شي، ځکه څه خبر چې دا کار د هغوی د ګناه د دوام لامل شي او خپل عزت د ګناه په ترسره کولو کې ومومي.

## ۸- داعی خپل ځان د خلکو په وړاندې نه تزکیه کوي:

داعی خپل ځان باید د خلکو په وړاندې تزکیه نه کړي، بلکه باید په دې وپوهیږي چې د ټولو نیکو کارونو او هڅو سره سره بیا هم نیمګړتیا لري، همدا راز باید د خدای (ج) شکر اداء کړي چې دی یې د خلکو خطیب ګرځولی دی او نوموړي ته یې توفیق ورکړی دی تر څو د خدای (ج) د رسول خبرې تبلیغ کړي. نو د دغه نعمت په خاطر چې خدای (ج) ده ته ورکړی دی، د الله تعالی شکر اداء کړي، خدای (ج) خپل پېغمبر ته په خطاب کې فرمايي:

« وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهُ مَا زَكَىٰ مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ أَبَدًا وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يُزَكِّي مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿النور: ٢١﴾

ژباړه: او که پر تاسو د الله فضل او احسان نه وای، نو هیڅلکه به مو کوم یو له ګناه څخه پاک شوي نه وو، خو الله پاک هغه خلک پاکوي چې خوښه یې شي.

رسول اکرم صلی الله علیه واله وسلم ته له هغه وروسته چې خپل رسالت یې په بشپړه توګه اداء کړ، د خدای (ج) له لوري داسې فرمان راغی:

إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ﴿النصر: ١﴾ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا ﴿النصر: ٢﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ﴿النصر: ٣﴾

ژباړه: کله چې د الله مرسته راغله او لویه فتحه مو په برخه شوه{النصر: ۱} او ته وینې چې ډلې ډلې خلک د الله دین ته ننوځي{النصر: ۲} نو د خپل رب پاکې او ثنا وایه او بښنه ترې غواړه بېشکه هغه توبه منونکی دی. {النصر: ۳}

علماء وايي چې خدای (ج) په دې سورت کې خپل پغمبر ته امر کړی دی تر څو له هغه څخه د مغفرت غوښتنه وکړي.

[illegible] کړي، او مثلا ووايي: زه تل [illegible]

## ۱۰- قران مزایده ته وړاندې نه کړي:

د ځینو داعیانو او ویناکوونکو دیني غیرت دوی دې ته مجبوري تر څو داسې مطالب چې په قرآن او دین کې شتون نه لري، پر خپلو خبرو کې ور زیات کړي، مثلا کله چې د معصیت په اړه خبرې کوي، جزاء یې له هغه جزاء څخه چې خدای (ج) فرمایلي ده ډېره ټاکي، د بېلګې په ډول که غواړي چې یو څوک د سیګرټ له څکولو څخه منع کړي، وایي: ( ای د خدای بنده ګانو هر څوک چې سیګرټ وڅکوي، خدای (ج) پر هغه باندې جنت حرام ګرځوي او په دې وپوهیږئ چې داسې ډول شخص به خوار او ذلیل شي او د جهنم کندې ته به لاړ شي.

باید ووایو: چې دا ډول کار اشتباه ده، ځکه په شریعت کې د هرڅه لپاره معیار شته؛ شرک انسان د اسلام له دایرې څخه وباسي، ځینې کارونه کبیره ګناهونه دي او ځینې نور صغیره او ځینې نور یې بیا مباح دي او خدای (ج) د هغوی هر یو ځای یا مقام مشخص کړی دی.

وضع الندی فی موضع السیف بالعلا

مضر کو ضع السیف فی موضع الندی

یعنې ( یعنې په لوړ ځای کې د تورې پر ځای د ایرو اېښودل، ضرر لري هماسې ډول چې د اېرو پر ځای د تورې اېښودل مضر دي).

ويې ويل: که ما ووژنې او که ونه وژنې د محمد (ص) د امت لپاره مې څلور زره احاديث وضع کړي دي!!

دا کار خطاء دی، ځکه څوک چې وايي: د فلانی قبيلې ټول وګړي، فاسق او فاجر دي، اشتباه کوي او خبرې يې سمې نه دي، ځکه په کلي وينا يا ويلو کې، د زياتې اشتباه احتمال شته.

داعی بايد د خپلو عبارتونو په ټاکنه کې دقيق وي تر څو د خلکو زړونه ترلاسه کړي نه داچې هغوی د خپل ځان پر وړاندې راوپاڅوي. ځکه چې خلک دخپلو قبايلو، ملتونو، شرکتونو، موسساتو او ټولنو په خاطر په قهر او غمجن کيږي، داعی بايد په دې ټکي وپوهيږي او له اوريدونکو، دوستانو، ورونو او مخاطبانو سره بايد په غرور او ځان ځانی سره چلند ونه کړي او په غوره انسانی شکل د ظاهر غوښتنه وکړي او مثلا ووايي: ما وويل، ما ترسره کړ، ما وليکل، ما ليک وليکه، زه په قهر شوم، ما تاليف کړ، ځکه د ما کلمه د هغو کلماتو له جملې څخه ده چې شيطان يې کاروي.

ابن قيم رحمه الله وايي:[٧] د ما، زما لپاره، زما په وړاندې، کلماتو له کارولو څخه بايد ډېر سخت پرهيز وکړل شي. ځکه دا هغه کلمات دي چې شيطان، فرعون او قارون به کارولې، په پايله کې هغوی ګرفتار شول. شيطان وويل:

قَالَ أَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِن طِينٍ ﴿الأعراف: ١٢﴾

٧- زاد المعاد ( ٤٧٥/٢).

ژباړه: ابلیس وویل: زه له ادم نه غوره یم ځکه چې زه تا له اور نه پیداکړی یم او هغه دې له خټې نه.

او فرعون وویل: أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ ﴿الزخرف: ٥١﴾

ژباړه: ایا د مصرواکمني زما نه ده.

او قارون وویل : إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِي ﴿القصص: ٧٨﴾

ژباړه: دا ماته زما د پوهې له برکته راکړای شوی دی.

نو د پاسنیو کلماتو له کارولو څخه جدا ډډه وکړئ، مگر د ما کلمې کارول هغه مهال چې یو څوک ووایي: زه مقصر او گناهگار یم، لکه څه ډول چې شیخ الاسلام ابن تیمه رحمه الله فرمایلي دي:

أنا الفقیر الی رب البریات

أنا المسکین فی مجموع حالاتی

یعنې: زه د دواړو جهانو پرودگار ته محتاج یم، زه په هر حال کې مسکین یم.

همدا راز کله چې یو چا د ده تمجید او تمکین وکړ، ویې ویل:

انا المکدی و ابن المکدی

و هکذا کان ابی وجدی

یعنې: زه، گناهگار د گناهگار زوی یم پلار او نیکه مې هم گناهگار ول(تول تر ادم علیه السلام پورې گناهگار یو).

نو داعی باید عاجزی ولری او له خپلو دوستانو څخه وغواړي چې عیبونه یې پټ کړي، له هغوی سره خپل نظر تبادله کړي، له هغوی څخه د مشورې او وړاندیز غوښتنه وکړي او وپوهیږي چې د هغوی ترمنځ داسې کسان شته چې له ده څخه پوه، بهتر او ډېر د فصاحت خاوندان دي. له پخوانیو عالمانو څخه یو عالم وایي: هغه څوک چې سکوت اختیاروي، د خدای (ج) له لوري د بدلې منتظر دی او هر هغه څوک چې خبرې کوي، د خدای (ج) له لوري د عذاب په انتظار کې وي، ځکه هغه څوک چې خبرې کوي له خطاء سره مخ کیږي.

## ۱۳- هر څه ته په خپل واقعي مقام کې ځای ورکړي

غوره نه ده چې داعی مسایل له هغه څه څخه چې دي زیات بیان کړي، ځکه د دین بنسټ کېښودل شوی او بشپړ شوی دی.

خدای (ج) په قران عظیم الشان کې فرمایي:

(الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا ﴿المائدة: ٣﴾

ژباړه: نن مې ستاسو دین تاسو ته بشپړ کړ، خپله لوربینه مې درته پوره او اسلام مې درته دین غوره کړه.

نو داعی حق نه لري چې مسایل له خپلې اندازې او واقعیت څخه زیات بیان کړي او یا داچې لوی مسایل خلکو ته کوچني او کم اهمیته بیان کړي. د

ښېلګې په توګه ځينې داعيان د ږيرې مسئله له اندازې څخه زيات ټينګار کوي، تر دې ځايه چې هغه د توحيد په څېر ګڼې، دوی ګمان کوي چې خلک د ږيرې په وسيله جنت يا دوزخ ته ننوځي، په علم سره له دې مسئلې سره چې ږيره د واجباتو له جملې څخه ده او هر کس چې هغه وخريي، د حرام عمل مرتکب ګرځي مګر په ورته وخت کې له خپلې اندازې او مقام څخه لوی په ډاګه نه شي. همدا راز د ازار اسبابو او په چپ لاس سره د خوړلو په څېر مسايلو او دا ډول نورو شيانو ته له خپلې اندازې څخه ډېر اهميت ورنکړل شي؛ له بله اړخه داعی بايد پاسني مسايل په کلي توګه پرېږندي او ووايي چې: دا ټول ظاهري او سطحي چارې دي او بايد ووايي: چې په دغه صورت کې، د اشتباه سره مخ شوی دی، څکه چې خدای (ج) د هرې چارې يا مسئلې لپاره حدود او اندازه ټاکلي ده.

**۱۴- له خلکو سره په نرمی خبرې وکړي او په مهربانی ورته نصحيت وکړي:**

داعی بايد تندې او سختې خبرې ونه کړي، بلکه بايد په نرمی سره خبرې وکړي. څکه چې رسول اکرم (ص) به په نرمی سره خبرې کولې، څېره يې زړه راښکونکي وه او عاجزي او تواضع کوونکی وو، له لوی او کوچني سره يې مينه درلوده، له زړو ښځو سره به دريده او اړتيا به يې ورته پوره کوله، ماشومان به يې په غيږه کې نيول، د ناروغانو پوښتنې ته به ته، د فقيرانو لاسنيوی به يې کاوه، د صحرايي وګړو خشونت به يې تحمل کاوه، تر څو به چې ياد شخص لاس شاته نه کښېکاږه رسول اکرم (ص) به د لاس له کش کولو څخه ډډه کوله او کله به چې له کوم کس سره دريده تر څو به

یې چې خبرې نه وې بشپړې شوې، هغه یې په نیمه کې نه پرېښود، تل یې له یارانو سره په تبسم خبرې کولې او له هیڅ کس سره یې بد نه کول:
فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ﴿آل‌عمران: ١٥٩﴾

ژباړه: د الله مهرباني وه چې ته مسلمانانو ته نرم شوې، که ته بد خویه او د سخت زړه خاوند وای نو دوی به ستا له چاپېر څخه خواره واره او تیت، پرک شوي وو.

که چېرې انسان د! کارونه ترسره کړي، د خلکو په منځ کې له هغه کس څخه ډېر ورګرانېږي چې د هغوی ترمنځ سره او سپین زر وېشي.

کله چې الله متعال، موسی او هارون علیهم السلام د وخت لوی طاغوت ته ورولېږل، هغوی ته یې امر وکړ چې له هغه سره په نرمۍ خبرې وکړئ، لکه څه ډول چې فرمایي:

فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ ﴿طه: ٤٤﴾

ژباړه: په نرمۍ سره خبرې وکړئ، کېدای شي چې خبره ومني او یا وډار شي.

نرمې خبرې، روا سحر دی، له یو عالم څخه یې وپوښتل: جایز سحر کوم یو دی؟ ویې ول: د نارینااوو خلکو په څېره کې تبسم.

د علماوو له جملې ښخه یو بل عالم د محمد (ص) د امت ښه داعیان داسې توصیفوي: هغوی شفیق او مهربان دي، نرم مزاج او اسان گیر دي. د هغوی لارښود د هغه ستوري په څېر دی چې د شپې نور له هغه څخه لارښوونه اخلي».

نو له دې کبله له داعیانو څخه غواړو، چې په خپلو خبرو کې نرمي رعایت کړي او په قول او عمل کې له خشونت او عصبي کېدو څخه ډډه وکړي، او له خلکو سره د ستم گرو او جابرانو په څېر رویه ونه کړي، ځکه چې دوی حکیم او لارښودونکي دي او باید د خلکو لپاره رحمت وي.

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ ﴿الأنبياء: ۱۰۷﴾

**ژباړه:** ای محمده! ته مو د ګردو نړیوالو لپاره رحمت لیږلی یې.

پغمبر رحمت، پیروان یې رحمت؛ شاگردان یې رحمت او د خدای (ج) د لارې داعیان هم رحمت دي؛ همدا راز داعی باید د نیک کارو وگړو احترام وساتي او یوازې په خپله رایه عمل ونه کړي؛ بلکه له خپلو مسلمانو ورونو سره سلا(مشوره) وکړي خدای (ج) په دې اړه فرمايي:

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ ﴿آل‌عمران: ۱۵۹﴾

ژباړه: د الله مهرباني وه چې ته مسلمانانو ته نرم شوې، که ته بد خویه او د سخت زړه خاوند وای نو دوی به ستا له چاپېر څخه خواره واره او تیت، پرک شوي وو نو عفوه ورته وکړه، ښښنه ورته وغواړه او په کار کې ورسره مشوره وکړه او کله دې چې هوډ وکړ نو پر الله توکل وکړه، بې شکه چې الله توکل کوونکي خوښوي.

او په بل ځای کې فرمايي:

وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ﴿الشورى: ۳۸﴾

ژباړه: او د هغو لپاره دي چې د خپل رب بلنه یې منلې، لمونځ یې ودرولی او خپل منځي کارونه یې په مشوره دي او څه چې مونږ ور روزي کړي د الله په لار کې یې ترې مصرفوي.

په همدې خاطر داعی د خپل صنف له شاگردانو، له مسلمانو ورونو، له اهل خیر کسانو سره چې له ده مشران دي او متدینو انسانانو سره سلا کوي، حتی باک نه لري، چې ځینې خصوصي مسائل هغوی ته وړاندې کړي تر څو پر هغه باور وکړي او مخلصانه هغه ته نصیحت وکړي او هغه ته نږدې شي. همدا راز د سیمې او محلې له اوسیدونکو سره چې په هغه کې ژوند کوي هم باید خپل ځان ورنږدې کړي؛ ځکه چې رسول اکرم (ص) به له خلکو سره په مشوره کولو سره د هغوی مینه ځان ته راجلبوله،

انحضرت (ص) حتی په لویو مسایلو لکه د بدر پر ورځ د راکوزیدو ورځ، له جنګي بندیانو سره د چلند طریقې او د غنایمو مسئله او نورو چارو په تړاو له خپلو ملګرو سره مشوره کوله او له هغوی څخه به یې د نظر ورکولو غوښتنه کوله.

نو داعی باید د هغه ټولنې له وګړو سره چې پکې ژوند کوي، مشوره وکړي، هیڅ باک نه لري چې هغوی ته لیکونه واستوي او نظر یې وغواړي، کله هم چې د هغوی له یوې ډلې سره مخ شي له هغوی څخه وپوښتي او ووايي: ګرانو ورڼو! د فلاني او فلاني کار په تړاو ستاسو رایه څه ده؟ ځکه چې د یو نفر له رایې څخه د دوو نفرو رایه غوره ده، او د دریو نفرو رایه د دوو نفرو له رایو غوره ده.

وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ﴿آل عمران: ۱۵۹﴾

ژباړه: په کارونو کې له هغوی سره مشوره وکړه.

## ۱۵- له خلکو سره په ښه ډول چلند وکړي او د هغوی احترام وساتي:

داعی باید د اهل خیر کسانو قدرداني وکړي او که چیرې کوم کس ورسره احسان وکړ، له هغه څخه مننه وکړي، ځکه که چیرې داعی، د اهل خیر قدر وکړي، هغوی متوجه کیږي چې دی د هغوی پر ارزښت باندې پوهیږي او د نیکی لورې ته ارزښت ورکوي. مګر که چیرې له احسان کوونکې څخه مننه ونه کړو او خطاکار سرزنش او تنبیه نه کړو، ګویا چې

هیڅ کار نه دی ترسره شوی! نو اړینه ده چې نیک کار انسان ته ووایو: احسنت او هغه کس ته چې بد کار یې ترسره کړی دی په بشپړ ادب ووایو: بد کار د ترسره کړی دی.

همدا راز هغه انسانان چې عمر یې تېر شوی، دا خوښوي چې احترام یې وساتل شي او د هغوی د ډېرعمر حق اداء شي؛ نو وپوهیږئ چې هغوی په طاعت کې له تاسو څخه مخکې دي او له تاسو څخه څو کاله پخوا مسلمان شوي دي، نو له دې کبله د هغوی احترام وساتئ.

همدا ډول باید علماوو، د قبایلو مشرانو، د علم او فضل خاوندانو، د ځلانده استعدادونو درلودونکو لکه مسلمانو لیکونکو او شاعرانو او هغو کسانو چې د اسلام په لار کې یې ښه ازموینه ورکړې ده او هغو سوداګرو ته چې د خدای (ج) په لاره کې خپل مال مصرفوي احترام وشي، د هغوی مقام خلکو ته ورپېژندل شي او د هغو کارونو لپاره چې ترسره کړي یې دي مننه ترې وشي، تر څو د هغه خیر کارونو ترسره کول یې همداسې د هغوی په زړونو کې ځای ونیسي. لکه څه ډول چې نبي اکرم (ص) پر منبر باندې فرمایل: «غفر الله لعثمان ما تقدم من ذنبه و ما تأخر»[۸] یعنې خدای (ج) د د عثمان تېر او راتلونکي ګناهونه وبښي. «ما ضر عثمان ما عمل بعدالیوم»[۹] یعنې عثمان (رض) چې له نن ورځې وروسته هر کار ترسره کړي، ضرر به ونه کړي.

---

[۸]- په مسند کې د احمد روایت (۲۲۶/۳) او البانی هغه صحیح بللی دی.

[۹]- په فضایل الصحابه کې د امام احمد روایت (۷۳٦) او سند یې کمزروی دی.

همدا راز يې وفرمايل: «دعوا لي أصحابی»[1] يعنې ملګري مې ماته پرېږدئ چې موخه يې ابوبکر صديق (رض) وو. همدا راز يې له عمر (رض) څخه مننه کوله او په کلي ډول له هغوی څخه به يې د تن يو ستاينه کوله، بل به يې تعريف او تمجيد به يې کاوه او يو له بل څخه به يې مننه کوله.

بايد په دې وپوهيږو چې دا د روزنې له طريقو څخه يوه طريقه ده او تملق او چاپلوسي نه ده.

## ١٦- د مصلحت له مخې په علني يا پټ ډول، دعوت وکړي:

هر ځای ښکاره او علني دعوت ته اړتيا لري، لکه د ويناوو ترسره کول او د عامه خلکو لپاره په ښارونو او کليو کې د درسونو وړاندې کول، په هر ځای کې دې په علني ډول د اسلام لوري ته دعوت وکړي او وينا او وعظ د وکړيو مګر که چېرې داعي غواړي چې يو ټاکلي شخص ته نصيحت وکړي، بايد نوموړی په يوازيتوب او د نورو له سترګو لېرې، په مهرباني سره دعوت کړي او هغه ته نصيحت وکړي.

امام شافعی رحمه الله فرمايي:

تعمدنی بنصحک فی انفراد

و جنبی النصيحة فی الجماعة

فان النصح بين الناس نوع

[1]- د ترمذی روايت (٣٧٠١)

من التوبیخ لا أرضی استماعه

فان خالفتنی و عصیت قولی

فلا تجزع اذا لم تعط طاعه

یعنې؛ ما ته په یوازیتوب کې نصحیت وکړه او د نورو په حضور کې ماته له نصیحت کولو ډډه وکړه، ځکه د خلکو په منځ کې نصیحت کول یو ډول توبیخ ګڼل کیږي؛ چې د هغه اوریدو ته تمایل نه لرم او که له زما له دې غوښتنې سره د مخالفت وکړ او ما خبرو ته د غوږ ونه نیوه، زما له نه اطاعت څخه هم مه په اندېښنه کې کېږه.

د امام شافعی رحمه الله موخه داده چې که چېرې د زما خبرې ونه منلې او چاته د د خلکو په حضور کې نصیحت وکړ، د هغه شخص له مخالفت څخه مه نا ارامه کېږده، ځکه چې هغه له تا څخه انتقام اخلي او ستا پر وړاندې خپل مخالفت په ډاګه کوي او غبرګون ښايي.

ډېر زیات ځوانان دي چې ګیله کوي او وايي: ځینې خلک د نورو په حضور کې پر مونږ انتقاد کوي او مونږ ته ارشاد کوي؛ په داسې حال کې چې د چلند دا طرز زمونږ د قهر او نا ارامتیا لامل ګرځي.

داعیان باید په دې وپوهیږي چې په دې کار کې هیڅ ډول ښېګنه نشته.

## ۱۷- د ورځې مسایل او نوي اندونه وپېژني:

داعی باید د ورځې پر مسایلو وپوهیږي او نوي طرحې چې وړاندې کیږي، باید ورسره بلدتیا ولري؛ نوي اندونه وپېژني او نوي کتابونه ولولي او دې خبرې ته چې باید وارداتي فرهنګونه مطالعه نه کړ، پاملرنه ونه کړي. که څه هم چې دا سپارښتنې د لویانو له لوري هم شوي وي. ځکه که چېرې مونږ دا نوي کتابونه او فرهنګونه مطالعه نه کړ، نه پوهیږو چې څه ډول ژوند وکړو، او همدا ډول له هغو وګړو سره د چلند طریقه چې دا ډول فرهنګونه لري، نه پېژنو؛ بلکې په دې باور یم چې داعیان باید مجلې او ورځپاڼې په بشپړ اختیاط سره ولولي او ددې مواظب وي چې دا ډول مجلات د کم سواده وګړو لاس ته ور ونه رسیږي او د هغوی د فساد لامل نه شي. نو باید دا ډول مجلې او ورځپاڼې په ګوښه ځای او د عامه خلکو له سترګو لېرې یو ځای کې ولولي تر څو د هغوی موخه وپېژني او د هغوی په تصحیح لاس پورې کړي.

عرفت الشر لا للشر لکن لتلافیه

و من لا یعرف الشر جدیر أن یقع فیه

یعنې: بد مې وپېژندل په دې خاطر نه چې بد دي، بلکه ددې لپاره چې له هغو ډډه وکړم او هغه څوک چې شر او بد ونه پېژني، پکې راګیر کیږي.

عمر (رض) وایي: « د اسلام پړي یو پر بل پسې د داسې وګړو له لوري پرې کیږي چې د اسلام په دوران کې زېږدلي دي او له جاهلیت سره بلدتیا نه لري».

ځکه هغه څوک چې له جهالت سره بلد نه وي ، نشي کولی چې اسلام هغه ډول چې ور یې دی وپېژني.

نو اړینه ده چې د اسلام داعیان د نوي اندونو له څه او څو سره، بلد شي. که چېرې یو کس له داسې کتاب سره مخ شو چې په هغه کې شبهه یا شکمن نظر یا نقطه شتون ولري له خپل ځان څخه پوه انسان ته یې وروړاندې کړي تر څو په بشپړې پوهې سره حرکت وکړي او حل لاره ورته پیداکړي.

## ۱۸- له خلکو سره د هغوی د درک په اندازه خبرې وکړئ:

داعی باید له کافی مهارت څخه برخمن وي او له هر کس سره د هغه د عقل په اندازه، خبرې وکړي؛ نو که چېرې کلیوالو ته ورځي، د هغوی له ستونزو او هغه څه چې دوی ته اهمیت لري، خبرې وکړي. که چېرې پوهنتون ته ځي او غواړي چې د محصلینو په منځ کې وینا وکړي، باید د هغوی د اند او فکر په نظر کې نیولو سره خبرې وکړي. او که چېرې داسې ټولي ته ځي چې له ده څخه کم سواد لري، د هغوی په سطح خبرې وکړي، ځکه هره ډله خپل ځانته ځانګړي مسایل لري.
د بېلګې په توګه، کلیوال د شرک، سحر، جادو، د کاهنانو غیبت او د لمانځونو غلط اداء کولو په څېر چارو کې راګیر دي.
پوهنتونیان د سکولاریزم، الحاد ، نوي اندونو او د شرعي چارو په تړاو له شبهاتو سره مخ دي.

هغه وګړي چې له کم سواد څخه برخمن دي، د هغوی په منځ کې باید د ښو دوستانو له ټاکلو، له والدینو سره نیکي، د وخت غنیمت ګڼل، د قران کریم تلاوت او ددې په څېر نورو چارو په اړه خبرې وشي.

نو له هر کس سره باید د هغه د فکر، اند، او ذهني وړتیاوو او استعدادونو په اندازه خبرې وشي.

وګورئ نبي اکرم (ص) له معاذ بن جبل سره داسې ډول خبرې کوي چې له نورو عربو سره هغه ډول خبرې نه کوي، د معاذ بن جبل سره د علم او پوهې، د هغه اغیز، د خدای (ج) د دین او د هغه د حدودو ساتنې په تړاو خبرې کوي، په داسې حال کې چې له نورو عربانو سره د توحید په اړه خبرې کوي چې هغوی جنت لوري ته وړي، داسې جنت چې پراخوالی یې د ځمکو او اسمانونو په اندازه دی.

## ۱۹- د عیبونو نسبت یې نورو خلکو ته مه کوئ:

یو له هغو عیبونو څخه چې داعي باید ډډه ورڅخه وکړي، دادی چې د خپل ځان د لوړولو په موخه، پر نورو باندې انتقاد یا نیوکه ونه کړي، یعنې نور ټیټ رانه ولې تر څو دی په خپله لوړ او غوره مقام ومومي، باید په دې وپوهیږو چې دا کار هغه کسان ترسره کوي چې د شهرت، نوم او رسم په لټه کې دي؛ خدای (ج) د مونږ ته پناه راکړي، هر کله چې د عالم څخه خبره منځ ته راځي، وایي: هغه فلان او فلانی عیب لري».

او هر کله چې د داعی په اړه خبره کيږي، وايي چې: د دعوت طريقه يې سمه نه ده!! او که چېرې د ليکونکي نوم واخيستل شي، پر هغه باندې نيوکه کوي. هماغه ډول چې شيخ االاسلام ابن تيميه رحمه الله وايي:«بعض الناس کالذباب لا يقع الا علی الجرح» ځينې خلک داسې دي لکه مچان چې يوازې پر زخم باندې کښېني.

مچ ستاسو د بدن پاکه او سپينه برخه پرېږدي، که چېرې مو سپين کالي پر تن وي او معطر ياست، مچ د هغه پر مخ نه کښېني؛ مګر که چېرې ستاسو پر ګوته باندې ټپ ووينې، پر هغه باندې کښېني !! ځينې خلک هم ددې لپاره چې خپل غوره والی ثابت کړي، په بله طريقه سره پر نورو باندې نيوکه کوي او وايي: خدای (ج) دی فلاني ته د فلاني او فلاني کار په خاطر، د خير جزاء ورکړي، مګر هغه فلانی او فلانی عيب هم لري!! انتقاد منونکي نه دي او پر مسئله باندې د پوهيدو په لټه کې هم نه دي، منتقد په دې توګه سره غواړي چې خپل ځان داسې ډول ښکاره کړي چې په نوموړي کې هيڅ ډول عيب شتون نه لري.

همدا راز د شيطانانو له طريقو څخه يوه طريقه چې ځينو داعيانو ته يې القاء کوي، داده چې نوموړی له داعيانو څخه د يو داعی لپاره د زړه سوي په چوکاټ کې دعا کوي؛ مګر په حقيقت کې غواړي د هغه عيب او نقص بيان کړي، مثلا کله چې له داعی څخه خبره منځ ته راځي، وايي چې: خدای (ج) د نوموړي ته لارښوونه(هدايت) وکړي. له خدای (ج) څخه

غواړي چې هدايت يې کړي، که چېرې تاسو وپوښتئ چې: ولې؟ وايي: له خدای (ج) څخه غواړم چې هدايت يې کړي او بس.

تاسو پوهيږئ چې په دغه دعا کې څه شی نغښتي دي، او د نومونړي موخه دعا نه ده، بلکه بل څه دي؛ بايد په ياد ولرو چې دا داسې ډول دعا ده چې د دعا کوونکي لپاره هيڅ ډول بدله نه لري؛ عبدالله بن مبارک رحمه الله وايي: داسې زياتره وختونه دي چې استغفار کوونکی په خپل استغفار کې گناهگاريږي، خلکو ترې وپوښتل: څه ډول؟ ويې ويل: هغه مهال چې د يو نيک سړي په تړاو خبرې کيږي، وايي: استغفرالله، په داسې حال کې چې موخه يې، پر ياد شخص باندې نيوکه وي. لذا د خپل دغه ډول استغفار لپاره هيڅ ډول اجر نه ترلاسه کوي، بلکه گناه ورته ليکل کيږي.

## ۲۰- د داعي چال چلند بايد يوه بېلگه وي:

داعي بايد د نورو لپاره يوه بېلگه وي، ثابت او استوار وي او په سمه لاره حرکت وکړي او په دې وپوهيږي چې خلکو ده ته سترگې پټې کړي دي، او اشتباه يې نوره هم لويه څرگندوي او ډېره کوچنی تېروتنه يې کبيره گناه گڼل کيږي.

قد هيأوک لأمر لو فطنت له

فاربأ بنفسک ان ترعی مع الهمل

( که چېرې وپوهېږې چې ستا لپاره يې ډېر لوی کار اماده کړی دی، نو بې درکه او بد انسان مل لاری مه جوړوه او خپل ارزښت وساته)

د خلکو له نظره داعي د ايينې په څېر دی، که چېرې يوه توره نکته وربانديې پرېوځې خلک يې لويه ګڼي، نوموړی بايد د امت په تړاو له خدای (ج) څخه ووېرېږي او د خلکو د هلاکت لامل نشي، څکه مونږ وينو چې زياتره خلک د ځينو فتواوو يا د لويانو د اجتهادي نظرياتو څخه چې ممکن د هغوی په تړاو دوی ته لويه بدله ورکړل شوې وي، د لويې تېروتنې سره مخ کېږي، هغوی يوه تېروتنه کړې ده مګر خلک يې په تېروتنه کې اچولي دي.

يو عالم وايي: د عالم ښوئيدل د عالم ښوئيدل دي، نو داعي بايد له پرېکړې نيونې مخکې په بشپړه توګه دا څېړنه وکړي او د هر ګام په تړاو چې غواړي اوچت يې کړي، په ښه توګه فکر وکړي تر څو خدای مه کړه د خلکو د هلاکت لامل نه شي، زياتره داسې انسانان شته چې د عامه خلکو له لوري له فتواوو سره مخ کېږي چې د نيکانو يا لويانو څخه د يو فعل څخه يې موندلي وي او دا ډېره لويه تېروتنه ده!

## ۲۱- له خلکو سره بايد دوستي وکړي:

دا ډېره غوره ده چې داعي له خلکو سره دوستي وکړي، له هغوی سره نېږدې شي او ګټه ورته ورسوي، د داعي دنده يوازې خبرې کول، وينا کول او درس ورکول نه دي، بلکه بايد دده رفتار د رسول اکرم د رفتار په څېر وي. ځينې وختونه خلکو ته ډالۍ ورکړي او کله کله هم د هغوی ليدنې ته ورشي او په ورته وخت کې، د دعوت کار له ياده ونه باسي، څکه چې رسول اکرم صلی الله عليه و اله وسلم د دعوت تر څنګ، له خلکو سره

انس کاوه او هغوی ته به یې ډالۍ ورانديې کولې تر دې ځایه چې ځینې وختونه به یې یو نفر ته سل اوښان ډالۍ کول، د خلکو ترمنځ به یې لباس وېشه، د هغوی له زیاترو سره به یې معانقه کوله او د احترام لپاره به یې له خپل ځای څخه پورته کېده او هغه به یې پر خپل ځای باندې کښېناوه.

باید وپوهېږو چې د زیاترو خلکو د زړونو په لاس راوړل او خدای (ج) ته د هغوی نېږدې کول، سخت کار نه دی. لکه د زیاترو ځوانانو د زړونو تألیف. مثلا له تاسو سره یو ځوان مخ کېږي چې د معصیت او گناه پر لار روان دی، هڅه وکړئ نوموړي ته نېږدې شی او مینه ورسره وکړئ تر څو د دغه کار په ترڅ کې وکولی شئ چې نوموړي ته د دین حکمونه ورزده کړئ.

له بل ځوان سره چې د واده کولو توان نه لري، له هغه سره مرسته وکړئ، تر څو واده وکړي، هغه مهال ورو ورو له ده څخه وغواړئ چې له تاسو سره د جمعې لمانځه ته ولاړ شي او د خدای (ج) لور ته وروگرځي او توبه وباسي؛ همدا راز تاسو کولی شئ چې هغه کس ته چې پر مخدره موادو باندې روږدی دی په مینې او کمې مالي مرستې سره نجات ورکړئ، او هغه د خدای (ج) لور ته راوگرځوئ.

## ۲۲- داعي باید له خلکو سره نسبي دوستي او دښمني ولري:

داعي باید له هر چا سره د خدای (ج) د اوامرو څخه د اطاعت یا له هغه څخه د سرغړونې په اندازه دوستي او دښمني ولري، مونږ هم باید داسې نه وو، چې یو څوک باید په مطلق ډول د هغه ښه عمل لپاره چې ترسره کوي یې دوست وگڼو، یا هم یو بل څوک چې گناه ترسره کوي، په مطلق

ړول يې دښمن وبولو. بلکه بايد هر څوک د هغه اطاعت او عبادت په اندازه چې ترسره کوي وي، دوست ولرو او له بله اړخه يو چا سره د هغه ګناه او معصيت په اندازه چې ترسره کوي يې نفرت وکړو. زياتره وخت داسې پېښېږي چې مونږ يو څوک له يو اړخه خوښوو او له بله اړخه ورسره دښمني لرو. مثلا ددې لپاره چې تل له مونږ سره د جمعې لمونځ يو ځای اداء کوي، خوښوو يې او له بل اړخه چې غيبت کوي، له نوموړي سره دښمني لرو ، يو راباندې ګران وي ځکه چې ډېره يې پرې ايښې وي او په ورته وخت کې له ده سره دښمني کوو ځکه چې لباس يې له خپل شرعي حد څخه ټيټ کړی دی.

نو وينو چې په يو واحد شخص کې حب او بعض يو ځای او يو د بل ترڅنګ شتون لري.

## ۲۳- بايد ټولنيز شخص وي:

داعي بايد د خلکو په غم او ښادی کې شريک وي، د هغوی ستونزې حل کړي او د ناروغانو د احوال پوښتنې ته يې ورشي، ځکه له خلکو څخه لېرې والی سم کار نه دی؛ که چېرې هغوی تاسو په خپلو غمونو او ښاديو کې تر خپل څنګ ووينې او وپوهيږي چې ستونزې يې درک کوئ، نو له تاسو سره به ډېره مينه ولري، نو له دې کبله داعيانو ته وړانديز کوم چې د وادونو په مراسمو کې ګډون وکړي، زوم او په څنګ کې يې ورسره دوستانو ته مبارکي ورکړي، هغوی ته خدمت وکړي او په ښاديو کې يې شريک وي؛ خلک بايد داعي ووينې چې

د مجلس په منځ کې ناست دی او خبرې کوي او مېلمنو ته هم ښه راغلاست وايي، په دې ځای کې ده چې نوموړی به ډېرورباندې ګران شي.

همدا راز وړاندیز کوم چې داعی له هغه کس سره د مرستې اعلان وکړي چې غواړي واده وکړي، او نوموړي ته پلان ورکړي او ووايي : دا مې خوښيږي چې له تا سره مرسته وکړم، نظر دې څه دی؟ وړاندیز د څه دی؟ کوم کار ستا لپاره کولی شم؟

همدارنګه که چېرې د داعی غوږونو ته دا خبره ورسيږي چې کوم کس مړ شوی دی، له ځنډ پرته د فوت اهل ته ورشي، تسلیت ورکړي او د همدردی اعلان ورسره وکړي او هغوی ته وعظ او نصیحت وکړي.

نو سمه نه ده چې خلک، داعی يوازې د جمعې په ورځ پر منبر باندې ووینې او له هغې وروسته يې په ښادیو او غمونو کې کومه ښه نه لیدل کیږي؟!

نو له دې کبله داعی باید له خلکو سره د هغوی د ستونزو په هواري کې مرسته وکړي، ځکه چې کار يې ښېګڼه ده، او په دې صورت کې کولی شي چې د خلکو دوستي او پاملرنه ځان خوا ته راجلب کړي، لکه څه ډول چې په صحیح بخاري شریف کې راغلي دي چې يوه ورځ نبي اکرم (ص) د جمعې ورځې لمانځه لپاره په تاخیر سره راغی، ځکه چې د بنی عمر او بن عوف ترمنځ ستونزه رامنځ ته شوي وه او حضرت رسول اکرم (ص) د سولې او روغې جوړې لپاره هلته تللی وو.

کله به چې نبي کریم (ص) اورېدل چې فلانی ناروغ دی، د اصحابو له یو ټولي سره د هغه احوال پوښتنې ته ورته که څه هم چې د مدینې د اطرافو له صحرايي اوسېدونکو څخه به هم و.

د ویلو ده چې د ناروغ پوښتنه، یو له هغو لویو کارونو څخه ده چې د خلکو په منځ کې د داعی د محبوبیت لامل گرځي.

## ۲۴- په دعوت کې لومړیتوب بندي:

داعی باید په دعوت کې گام په گام مخکې ولاړ شي، له لویو مسایلو څخه بې پیل کړي تر څو بېې کوچنیو مسایلو ته ورسیږي.

یو له هغو ستونزو څخه چې ځینې داعیان یې لري او هغو ته پاملرنه نه کوي، دادي چې مثلا یو کلي ته ځي او غواړي د اسلام احکام خلکو ته د جمعې ورځې په یوه خطبه کې بیان کړي، په داسې حال کې چې د مطالبو د وړاندې کولو دا ډول طرز ناسم دی، ځکه چې نوموړی باید یوه موضوع وټاکي او د هماغه موضوع په تړاو خبرې او وعظ وکړي او هغه په سم ډول وڅېړي، نه داچې د : توحید، سحر، شرک، حجاب، پر لمانځونو باندې د دوام، د گاونډي حق... په څېر مسایل انتخاب کړي، او د درس یا وینا په یوه جلسه کې یې بیان کړي. په تاسف سره چې په دې صورت کې هیڅوک نه شي کولی چې له هغو ټولو پراگنده مطالبو څخه څه شی یاد کړي.

آوردها سعد و سعد مشتمل

ما هكذا تورد يا سعد الابل

سعد په داسې حال کې چې ويارمن او پراخ کالي يې پر تن درلودل، اوښان يې اوبنځای(د اوبوڅښلو ځای) ته راوستل، اې سعد دا رسم ساربانی نه دی.

کله چې رسول اکرم (ص) معاذ بن جبل (رض) يمن ته ولېږه، نوموړي ته يې په خطاب کې وفرمايل« أول ما تدعوهم شهادة أن لا اله الا الله و أنی رسول الله فان هم أطاعوک فأجزهم أن الله فرض عليم خمس صلوات فی اليوم و الليلة»

يعنې: ( لومړنی کار چې خلک د هغه لور ته راوبولې، په دې باندې د گواهی ورکول دي چې له الله تعالی پرته بل هيڅ معبود نشته، او زه (محمد) د خدای (ج) رسول يم. که چېرې يې دا ومنله، هغه مهال هغوی ته اعلان کړه چې خدای (ج) په شپه او ورځ کې پر تاسو باندې پنځه لمانځونه فرض گرځولي دي»

داعی دا ډول دعوت کوي، نه دا چې هغه خلک چې لمانځونه نه کوي، له هغوی څخه وغواړي چې ږيره پرېږدي، په داسې حال کې که چېرې د هغوی ږيرې اوږدې وي مگر لمانځونه اداء نه کړي، د اسلام حالت ته څه گټه لري؟!

همدارنگه تر هغه وخت پورې چې له خلکو سره د اساسي او لويو مسايلو په تړاو هوکړې ته نه وی رسيدلي، له هغوی څخه مه غواړئ تر څو پر کوچنيو کړنو باندې عمل وکړي.

خلک په مختلفو طریقو سره دعوت کړئ، کله په نصیحت، کله په پند ، کله په وینا، کله په لیک، ځینې وختونه د ناستو او جلساتو له لارې هغوی د اسلام ارزښتونو لوري ته راوبولئ، او کوښښ وکړئ چې له پاسنیو ټولو لارښوونو څخه دد دعوت په برخه کې ګټه پورته کړئ.

څکه ځینې خلک د وینا له اغیزې، او یو شمېر د درس په علت او یوه ډله هم له نورو شیانو څخه اغیزمن کیږي.

غوره ده چې کله کله د نظر وړ شخص لپاره لیک ولیکل شي او ځینې وختونه تلیفوني اړیکه ورسره ونیول شي، او ځینې وختونه یې مخې ته داعیان ور ولیږل شي تر څو هغوی دعوت کړي، زه فکر کوم چې د دعوت له نوو طریقو څخه ګټه پورته کول په داسې وخت کې چې د باطل دعوتونو طریقې نوي شوي دي، یوه حیاتي چاره ده.

خدای (ج) په قران عظیم الشان کې خبر ورکړئ دی چې د باطل پلویان له ډېرو امکاناتو او شتمنی څخه برخمن دي او له هغوی څخه په خپلو باطلو لارو کې ګټه پورته کوي لکه څه ډول چې فرمایي:

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ ﴿الأنفال: ٣٦﴾

ژباړه: کوم کسان چې کافران دي هغوی خپل مالونه د الله له لارې څخه د منع کولو لپاره مصرفوي، نور به هم مصرف کړي، خو اخرني پایله به یې پښېمانتیا او بالاخره به له ماتې سره مخ وي او کافران به جهنم ته ورټول کړای شي.

نو له دې کبله انسان باید د امکاناتو له کمښت څخه ناهیلې نه شي، څکه د خدای (ج) د رسول په اطرافو یعنې د عربستان شبه جزیرې په اطرافو کې دوه لویو امپراتوریو (قیصر او کسرى) له ډېرو لویو امکاناتو سره شتون درلود، په داسې حال کې چې انحضرت صلی الله علیه واله وسلم د په خپل خاورین کور کې په لومړنیو امکاناتو سره ژوند کاوه، مگر صداقت او اخلاص یې نوموړی خپلو ارزوگانو ته ورساوه او د اسلام دین د خاورینې کرې ختیځ او لویدیځ ونیول.

## ۲۵- د هر کس مقام وپېژني:

داعی باید له ټولو خلکو سره یو ډول رفتار ونه کړي، بلکه د هر شخص مقام وپېژني، څکه چې عالم بېل مقام لري، معلم بېل او قاضي بېل مقام لري، او دا ډول :

«قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ كُلُوا وَاشْرَبُوا مِن رِّزْقِ اللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿البقرة: ٦٠﴾

ژباړه: هرې ډلې خپله خپله چینه او ګودر وپېژندلو مونږ ورته وویل د الله تعالی درکړای شوې روزي وخورئ او وڅښئ، خو په ځمکه کې د فساد او ګډوډۍ هڅه مه کوئ.

نو روښانه شوه چې خلک د داعی پر وړاندې له یو ډول مقام څخه نه دي برخمن، بلکه هره ټولنیزه ډله، خپل ځانګړی مقام لري.

دا مسئله نه یوازې داچې تبعیض نه ګڼل کیږي، بلکه د اسلام له ادابو څخه یو ادب هم دی، ځکه د هر شخص مقام او منزلت له بل شخص سره توپیر لري.

نو په خپل مقام کې د هر چا ځایول او هغه ته ځای ورکول، د هغه حکمت یوه برخه ده چې داعی باید له خلکو سره په خپل رفتار کې پر هغه باندې سینګار وي، لکه څرنګه چې نبي اکرم (ص) به هر کس ته په خپل مقام کې ځای ورکوي، او دا مطلب په صحیح مسلم شریف او سنن ابوداوود کې له عایشه (رض) عنها څخه بیان شوی دی.

**٣٦- له خپل ځان سره حساب وکړي او له خدای (ج) څخه مرسته وغواړي:**

داعی باید خپل ځان محاسبه کړي او په دې اړه خپلې خبرې د خپل ځان لپاره معیار وګرځوي او هغو ته ښه په دقت سره پاملرنه وکړي، او وروسته له خپل ځان څخه وپوښتي چې ایا پر ویناوو یې عمل کوي که نه ؟ هغه مهال بیا له خدای (ج) څخه وغواړي چې نوموړی ثابت قدم وساتي او مرسته ورسره وکړي، همدا راز د هر درس او هرې وینا په پیل کې هم

خدا ج ته متوجه شي او له هغه (ج) څخه د ثبات، فتحې او هدایت غوښتنه وکړي.

په یو حدیث شریف کې راغلي دي چې نبي کریم (ص) فرمایل: «اللهم بک أصول، و بک أجول و بک أحاول»

یعنې: الهی! ستا په توفیق سره تلاش، حرکت او حمله کوم.

زیاتره علماء د تدریس پر مهال پاسنی دعاء لولي، ځینې نور بیا دا دعاء لولي «اللهم افتح علی فتوحاتک» یعنې: یاالله! د فتحې او بریالیتوب دروازې راته پرانیزه.

ځینو نورو به په پیل کې په خپلو زړونو کې داسې ویل «اللهم لا تکلنی الی نفسی طرفة عین فأهلک» یعنې: یا الله! ما د یوې سترګې په اندازه هم پر خپل ځان وهلو ته مه په واک کې ورکوه چې په دې صورت کې هلاک کېږم.

څکه که چېرې انسان یوازې په خپلو وړتیاوو، امکاناتو، حافظو او اوازونو باندې باور وکړي نو له ستونزو سره مخ کیږي، له دې کبله باید په دې وپوهېږو چې یوازې خدای (ج) دی چې یاری او مرسته رسوونکی دی.

نو له دې کبله داعی باید د جمعې په ورځ او هغه مهال چې غواړي منبر ته ولاړ شي، په ډېرې عاجزی او التماس سره له الله تعالی څخه وغواړي چې پر ژبه باندې یې اغیزناکې کلمې او عبارتونه جاري کړي؛

خبرې یې ګټورې وګرځوي، هغه ته په سمه لاره لارښوونه وکړي او په خپلو ویناوو کې یې بریالی کړي. ځکه که چېرې خدای (ج) ونه غواړي یوازې هغه کلمې چې کارول کیږي، په خپل حال کومه ګټه نه لري، بلکه خینې وختونه هغه ته ضرر هم رسوي، یعنې داسې عبارتونه پر ژبه راوړي چې هم خپل ځان او هم نور له ستونزو سره مخ کوي او یا داسې الفاظ وایي چې د دین خلاف دي، نو له دې کبله باید له خدای (ج) ځخه توفیق او ثبات وغواړي، ځکه چې خدای (ج) هر چاته چې وغواړي، ثابت قدم یې ساتي او ځوک چې پرېږدي، ماتې خوري.

## ۲۷- په عبادت کې باید ممتاز وي:

داعی باید پر نفلی عبادتونو باندې پابند وي او زیاتره مسنونې دعاګانې او اذکار ولولي او پر هغوی باندې دوام او پابندی وکړي، د داعی کړنې باید له نورو خلکو سره توپیر ولري او د خاصو ځانګړنو درلودونکي وي، د شپې او سهار دعاوې ووایي تر ځو د لوړ عظمت ځښتن پاک خدای (ج) د هغه ساتنه وکړي، له سهار وروسته ځو شېبې له خپل ځان سره ګوښه کښیني او خپل ځان محاسبه کړي، همدا راز د خلکو له سترګو لېرې ورځنی ورد ولري؛ قران کریم زیات تلاوت کړي او د هغه پر چارو باندې تدبر وکړي، د پخوانیو او سلفو ژوندلیک مطالعه کړي، ځکه چې له خلکو سره ډېر اختلاف، د زړه د توروالي او د ذهن د تشویش لامل ګرځي او زیاتره وختونه د زړه قساوت هم له ځان سره لري، نو پر داعی باندې لازمه ده چې یو ساعت یا ساعتونه په ګوښه او یوازېتوب کې تېر

کړي، يوازې کښيني له چا سره ليدنه ونه کړي او تليفوني اړيکه ورسره ونه لري، بلکه ګټور کتابونه مطالعه کړي او خپل ځان محاسبه کړي چې تر کومه بريده د شرعي احکامو پابند دی.

## ۲۸- په کمه دنيا باندې راضي وي او خپل ځان مرګ ته تيار کړي:

داعي بايد له دې نړۍ څخه د رحلت په اړه فکر وکړي او پر دې وپوهيږي چې مرګ حتمي دی، او ډېر ژر به ورته راشي او ډېر ژر به دی له دې نړۍ څخه د بلې نړۍ لار خپله کړي، خدای مه کړه چې د خلکو ښه راغلاست او د اطرافيانو زياتوالی يې د غرور لامل نه شي، ځکه چې خدای (ج) په قران عظيم الشان کې فرمايي:

إِن كُلُّ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ إِلَّا آتِي الرَّحْمَٰنِ عَبْدًا ﴿مريم: ۹۳﴾ لَّقَدْ أَحْصَاهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿مريم: ۹٤﴾ وَكُلُّهُمْ آتِيهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَرْدًا ﴿مريم: ۹۵﴾

ژباړه: څه چې په اسمانونو او ځمکه کې دي ټول به مهربان خدای ته د بنده ګانو په توګه راوړاندې شي﴿مريم: ۹۳﴾ ټول يې معلوم کړي او له مخې يې ګڼلي دي﴿مريم: ۹٤﴾ او ټول به يو يو د قيامت په ورځ د هغه مخې ته وړاندې شي.

داعي بايد فکر وکړي چې يوازې مري، يوازې قبر ته ځي او يوازې له قبر څخه راپاڅيږي او ډېر ژر به خدای (ج) له ده څخه د هغو کلماتو به

اړه چې په ژبه یې ویلي دي، وپوښتي؛ نو داعی باید ښه فکر وکړي چې ولې دعوت کوي؟ ولې خبرې کوي؟ څه وایي او د څه لپاره یې وایي؟ تر څو د دعوت په لاره کې په پوهې او خبرتیا سره حرکت وکړي.

همدا رنګه داعی باید د دنیوي ژوند لپاره ډېره هڅه او هاند ونه کړي، بلکه د کفایت په اندازه له هغې څخه ګټه پورته کړي، ځکه چې تر ټولو غوره کار د منځنی لارې ټاکل دي، کور یې باید د ټولنې د متوسطو وګړو په څېر وي او داسې لباس واغوندي چې متوسط خلک یې اغوندي.

## ۲۹ – ظاهرا سینګار او ښه والی ولري:

ځینې خلک په دې باور دي چې داعی باید د فقیرانو لباس یا هم تر ټولو بد ډول لباس ولري، دا ډول فکر او اند سم نه دی. ځکه چې خدای (ج) پاک شیان حلال ګرځولي دي، همدا راز رسول الله (ص) مسلمانان خپل خان جوړولو ته رابللي او فرمایلي دي « تجملوا کأنکم شامة فی عیون الناس» یعنې: خپل ځان ته ورسیږی تر څو د خلکو په نظر یو شاخص واوسیږئ»

همدارنګه یې فرمایلي دي : « **ان الله جمیل و یحب الجمال**»[۱۱] یعنې الله تعالی جمیل ذات دی او ښکلا خوښوي.

نو له دې کبله د داعی لپاره د معطر او ښایسته لباس او د ښه وګړو د ښه راغلاست لپاره د لویې حجرې درلودل کومه ستونزه نه لري، ځکه

[۱۱]- ابوداود (۴۰۸۹)

نه یوازې داچې دا کار د خدای (ج) او د هغه رسول اکرم (ص) د دستوراتو سره په ټکر کې نه دی، بلکه داعی باید په مختلفو وختونو کې د هماغه مهال پر شرایطو باندې ځان برابر کړي.

روایت دی چې کله چې به رسول اکرم صلی الله علیه واله وسلم د استسقاء لمونځ د اداء کولو لپاره د باندې ته، زوړ لباس به یې پر تن درلود چې عاجزی او فقر له ورایه ورځخه معلومېده، مګر په یو عید کې یې داسې ډول چادري اغوستي وه چې زر دینار قیمت یې درلود او چا ورته ډالی کړي وه، نو په دا عصر کې چې خلک په څو منزله اپارتمانونو کې ژوند کوي، که چېرې مونږ له داعی څخه وغواړو چې په خاورین یا ختین کور کې ژوند وکړي نو په حق کې یې مو جفاء کړي ده یا که چېرې له داعیانو څخه وغواړو تر څو ټوټه ټوټه او پخواني لباسونه واغوندي او یا دا چې د کال په اوږدو کې پر یو لباس باندې بسنه وکړي! با علم سره چې دا نکته، چې خدای (ج) دا خوښوي چې د خپلو نعمتونو اثار پر خپل بنده باندې ووینې.

البته داعی باید تر دې برید په دنیا باندې مصروف نه شي چې هغه له خپلې لارې څخه وګرځوي، ډېر د تاسف ځای دی چې زیاتره داعیان یا علماء او طالبان وینو چې تر مری پورې په دنیا کې ډوب دي او تر دې بریده پر وړو دنیوي کارونو کې راګیر شوي دي چې د دعوت کار یې په ټولیز ډول هېر کړی دی.

مونږ ددې مخالف نه یو چې د علومو طالبان او د اسلام داعیان، سوداګري یا کوم بل کار ولري، بلکه دا کار ښه او ګټور دی، لکه څه ډول چې عثمان بن عفان، عبدالرحمن بن عوف او ځینې نورصحاباوو (رض) عنم داسې ډول وو، مګر داچې د علم طالب او داعی، خپل ټول وخت په دنیوي چارو کې مصرف کړي او په موسساتو او نورو ځایونو کې یې په راکړه ورکړه تېر کړي، او امت په خپل حال پرېږدي تر څو هلاک شي، دا کار نه یوازې دا چې سم نه دی بلکه ډېر له شرم څخه ډک دی، ځکه چې دعوت هغه غوره طاعت دی چې د حق لارې داعیانو ته عنایت شوی دی (او د هغه پرېښودل لویه ناشکري شمېرل کیږي).

همدا راز داعی باید خپل شخصي ظاهر ته اهمیت ورکړي، پر ایمان باندې سینګار وي، له صورت او سر څخه یې وقار او ارامتیا معلومه شي او د اهل خیر او علماوو لباس واغوندي، ځکه چې هر قشر خپل ځان ته ځانګړی لباس لري او هم د اهل علم په څېر ظاهري ښکلا ولري او فطري ځانګړنو لکه مسواک وهلو، د نوکانو اخیستلو، د ږیرې پرېښودلو، د لارې لنډولو او نورو خصلتونو ته اهمیت ورکړي، له خوشبو موادو څخه استفاده وکړي مګر په داسې ډول چې د نورو د ازار لامل نه شي، ډېر او په مرتب ډول غسل وکړي او په کلي ډول سر او خپل ظاهري وضعیت ته لاسرسی وکړي تر څو په عامه ټولنه کې د دعوت ښه استازی وي.

داعی باید د نورو د تنګ شخصیت مقلد نه وي، په تاسف سره چې لیدل کیږي چې ځینې داعیان بل داعی یا عالم یې خوښیږي، هغه کوي

د هغه په څېر خبرې وکړي، د هغه په څېر پر لاره ولاړ شي، او بلاخره د ژوند په ټولو برخو کې له هغه څخه تقلید وکړي، په دې توګه سره د نوموړي عالم یا داعی په شخصیت کې ویلې کیږي او له منځه ځي.

روایت شوی دی چې رسول الله صلی الله علیه واله وسلم وفرمایل « **لا یکن احدکم امعة؛ ان احسن الناس أحسنت و ان اساء وا أسأت**»[١٢]
ژباړه: په ټېو سترګو له خلکو څخه پیروي مه کوئ او مه وایئ چې : که خلکو نیکي وکړه، زه هم نیکي کوم او که خلکو بدی وکړه زه هم بد کوم».

مګر که چېرې خلکو له تاسو سره نیکي وکړه تاسو هم نیکي وکړئ که چېرې یې بد وکړه له هغوی سره د بد کولو څخه ډډه وکړئ. نو د داعي لپاره د نورو په شخصیت کې جذبېدل غوره او ګټوره چاره نه ده.

ګرانه وروره! تاسو باید خپلواک شخصیت ولرئ او په دې وپوهیږئ چې خدای (ج) یوازې تاسو په دې خاصو ځانګړنو سره پیداکړي یاست او حتی په خاورینه کره کې به یو نفر با هم ستاسو له خصوصیاتو سره یو شان ونه وینئ، نو تاسو د میلیونونو انسانانو په منځ کې چې خدای (ج) له ادم علیه السلام څخه پیداکړي دي او تر قیامت پورې یې هم پیداکوي؛ یوازې یاست؛ ستاسو اواز د بل هیڅ کس د اواز په څېر نه دئ، جسمي ځانګړنې، وړتیاوې، استعدادونه او ستاسو هر څه له نورو سره توپیر لري؛ عامه خلک هم دا ناغوره بولي چې یو کس خپل ځان د نورو په شخصیت

[١٢]- ترمذی (٢٠٠٧) د حذیفه رض روایت او سند یې کمزروی دی.

سره ملبس کړي، په دې باره کې کومه ښېګه نه لري چې وايي: کارغه غوښته چې د زرکې د لارې تګ زده کړي چې د خپلې لارې تګ يې هم هېر کړ.

دا متل د ځينو قاريانو په باره کې صدق کوي، څکه له هغوی څخه زياتره يې غواړي چې د نورو قاريانو له اواز څخه تقليد وکړي او د دې موخې لپاره ډېره هڅه کوي تر دې ځايه چې ستړي کېږي، مګر بيا هم نه شي کولی چې د خپل نظر وړ قاري په څېر تلاوت وکړي او له هغه څخه تقليد وکړي، مضافاً مونږ هم له هغه اواز څخه چې خدای (ج) دغه فرد ته عنايت کړی دی، محروم کېږو، مګر داچې اواز يې د هماغه نظر وړ قاري په څېر ښايسته وي او وکولی شي چې له تکليف پرته له هغه څخه تقليد وکړي، چې په دې صورت کې کوم باک نه لري، انشاالله

نو دا غوره ده چې داعی خپل خپلواک شخصيت ولري.

اسلام هم هغه وګړو ته چې قوي اراده او رايه لري، اړتيا لري او هم مهربان او رؤف وګړو ته، څکه چې له هغوی څخه هر يو يې په خپل ځای کې ګټور دی، هماغه ډول چې مونږ د خلکو وړتياوو ته اړتيا لرو او په تېر کې مو يې يادونه وکړه چې رسول اکرم صلی الله عليه واله وسلم د هغوی د تخصص پر بنسټ تقسيم بندی کړل او هر يو يې د خپل استعداد له مخې په جبهه يا مسؤليت باندې وګماره، نو وينو چې د قاريانو په رأس کې يې ابی بن کعب وټاکه، حسان (رض) د پغمبر (ص) شاعر دی، زيد بن

ثابت د میراث په علم کې تخصص درلود، ابوبکر (رض) له ښه مدیریت څخه برخمن وو او قدرت او قاطعیت هم باید له عمر (رض) څخه زده کړو او پاتې همدا ډول قیاس کړه.

## ۳۰- د ښځو چارو ته اهمیت ورکړي:

همدا ډول داعی باید د ټولنې ښځو ته عنایت ولري او په خپلو ویناوو او خبرو کې هغوی هېرې نه کړي؛ ځکه چې د ټولنې نیمایي وګړي جوړوي او د یادولو وړ ده چې هغه څه چې په دغه کوچنی رساله کې راغلي دي، د ښځو په حال باندې هم شاملېږي.

له الله متعال څخه مسألت لرو چې له موږ څخه راضی شي او زموږ خبرې او عمل اصلاح کړي او موږ د خپلو دوستانو په ډله کې ځآی کړي او د خدای (ج) ډېر زیات درود او سلام پر محمد او آل او ملګرو یې.

ومن الله التوفیق

**احسان الله «خیرک»**

کابل، خوشحال مېنه

۲۵/۱۱/۱۳۹۴ د شپې: ۸:۳۰ دقیقې.



## د ژباړن لنډ ژوندلیک

احسان الله څیرک په 1374 هـ.ش کال کې د خوست ولایت، نادرشاه کوټ ولسوالی په المری کلي کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې، خپلې لومړنی او منځنی زده کړې یې په خوست کې سرته رسولي دي او اوس د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي [illegible] اداري او دیپلوماسی څانګې د دریم ټولګي محصل دی.

## د [illegible] چاپ شوي اثار:

1- [illegible] حقوق (معاصر حقوقي نظامونه)

2- په اسلام کې د بشر حقوق

3- د دعوت فنون ( همدا اثر)

4- مقایسوي اساسي حقوق


جهان دانش خپرندویه ټولنه
آدرس: دهمزنګ لومړی سړک محب زاده مارکیټ
۰۷۸۰۶۹۰۷۳۰/۰۷۸۶۲۱۷۳۲۸
jahan.danish2015@gmail.com
جهان دانش خپرندویه ټولنه